عمومي مجمع

د امنيت شورا

وېش: عمومي

جون ۲۰، ۲۰۱۲

اصلي متن: انګريزي

**عمومي مجمع**

**۶۶ ناسته**

**د امنيت شورا**

**۶۷ کال**

د اجنډا ۳۸ شمېره موضوع

**په افغانستان کې وضعيت**

# په افغانستان کې وضعيت او پر نړيوال سوله او امنيت باندي د هغه پايلې

# د عمومي منشي راپور

**لومړي: مقدمه**

۱. اوسنی راپور د عمومي مجمعې د ۶۶/۱۳ ګڼې قطعنامې او د امنيت د شورا د ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) شمېر قطعنامې پر بنسټ وړاندي کيږي، چې د هغه په ترڅ کې شورا زما څخه وغوښتل چې د هرې دريو مياشتو وروسته په افغانستان کې د بدلونونو په اړوند راپور وړاندي کړم.

۲. دغه راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعاليتونه په اړوند، د بشري، پرمختيايي مرستو او د بشري حقونو د سترو هڅو په ګډون، زما د پخواني راپور د مودې را پديخوا چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ د مياشتې په ۵ نېټه

(A/66/728-S/2012/133) صادر شوی، تازه معلومات وړاندي کوي. په همدې ډول راپور د کليدي سياسې او امنيتي پرمختګونو لنډيز او د افغانستان په اړوند سيمه ييز او نړيوال پيښې په ګوته کوي.

**دوهم: اړوند پرمختګونه**

**الف: سياسی پرمختګونه**

۳. د افغانستان د سولې او مصالحې تازه هڅې د راپور په موده کې يو شمېر ننګونو سره مخامخ شوي. د مارچ په ۱۵ نېټه طالبانو په يو اړخېز ډول د خبرو بهېر، په قطر کې د وړانديز شوي دفتر د رامنځته کولو پر سر، او په ظاهره د امريکايانو سره د دغه دفتر د وضعيت او د بنديانو د انتقال مخکښې شرط له امله، تعليق کړل. په قطر کې د دغه دفتر په اړوند د ديپلوماتېک کاري بنستې ايښودل د افغانستان د بهرنيو چارو وزير زلمي رسول له خوا دوام لري چې د اپريل د مياشتې په ۳ نېټه د دوحې څخه ليدنه وکړه چې په کابل کې د قطر سفارت د وړانديز په ګډون د دواړو هيوادونو ترمنځ دوه اړخېز پراخ تړون باندي بحث وکړي. په ورته حال کې يوه پېنځه کسيزه ډله چې د حزب اسلامي ګلبدين حکمتيار د وسله والې ډلې له خوا استازيتوب کول د اپريل د مياشتې په ۱۳ نېټه او د اپريل د مياشتې په ۱۶ نېټه د ولسمشر کرزی سره وليدل. دوي يو ۱۷ ماده ای پلان وړاندي کړي چې د بهرني ځواکونو پر حضور، د حکومت مشروعيت، راتلونکي انتخابات او اساسي قانون باندي تمرکز درلود. خو په عين حال کې د مې د مياشتې په ۱۲ نېټه حزب اسلامی دغه تړون، د افغانستان او متحده ايالاتو تر منځ د ستراتيژيک مشارکت تړون د اندېښنې له امله، تعليق کړ. خو په خپل اعلاميه کې دغه تحريک د مې د مياشتې په ۲۰ نېټه ټېنګار وکړ چې دوي د نوي فرصوتونو د رامنځته کولو لپاره خپل ټول نظامي او سياسي دروازي پرانېستي اېښودلې دي.

۴. د اپريل د مياشتې په ۱۴ نېټه د سولې د عالې شورا د مشر په توګه، د پخواني ولسمشر برهان الدين رباني، چې د ۲۰۱۱ کال سپټمبر په مياشت ووژل شو، د زوي صلاح الدين ربانې ټاکنه بايد د دغه شورا د کار په پياوړي کولو کې مرسته وکړي. پداسې حال کې چې هغه د خپل پلار لار به تعقيب کړي، هغه ټينګار وکړ چې د شورا د ښه والي لپاره عام شموله ګډون ته اړتيا ده. د مې د مياشتې په ۱۳ نېټه د دغه شورا يو ستر غړي مولوی ارسلا رحماني چې د طالبانو په رژيم کې وزير او د سولې د پروسې سره يو ځای شوي و، د هغه نوم د تعذيراتو د لست څخه، چې د امنيت شورا د کمېټې له خوا ترتيب شوی او د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) د پريکړې پر بنسټ رامنځته شوي، حذف شوي و، په کابل کې ووژل شو. پداسې حال کې چې د هغه د وژول کيدو په اړوند مخالف تيوريګانې شتون لري، صلاح الدين رباني ووېل چې دغه پېښه هم بايد سوله جوړونکې ته خنډ جوړ نکړي. طالبانو د دغه ترور مسوليت ندی منلې، چې د يوي ډلې له خوا ادعا شوي کوم چې ځان ته د ملا داد الله جبهه وايي او خپل نوم يې د طالبانو د يو بدنامه قومندان د نوم څخه جوړ کړي چې په ۲۰۰۷ کال کې ووژل شو. دا د طالبانو څخه يو جلاه شوي ډله ده چې په خپلواک ډول سره عمليات تر سره کوي او وروستنې راپورونه ښيي چې دوي داخلي توقيف خانه لري او د طالبانو د قومندانانو اعدام هم تر سره کوي، چې د طالبانو په ليکو کې د پراخ درز ښکارندوي دی.

۵. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوی (یوناما) د سولې د عالي شورا سره خپل مرستو دوام ورکوي زیاتره برخه یې لېږي سیمو ته د تلو د هڅو لپاره لوژستیکې مرستو باندي مرکوز دي. د سولې د ولایتي شورا ګانو او همدارنګه د ځایي چارواکو هڅې او نوښتونه د جګړه کوونکو د تېښتې کچې پر لیکو باندي خپل تمرکز ساتلي دی. د افغانستان د سولې او بیا ادغام د پروګرام ګډ سکرتریت په حواله د مې د میاشتې تر نیمایي پورې۴۶۴۱ تنه د حکومت ضد عناصر پخوانې غړي په رسمې ډول خپل نومونه ثبت کړیدي. د دي برسېره د ۱۳۳۹ تنو سره، چې د بیا ادغام لپاره بلقوه کسان دي، خبري جاري دي. دغه پروګرام د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له خوا ملاتړ تر لاسه کوي پداسې حال کې چې یوناما د تخنیکې ډلې د غړي په ډول په پر له پسې ډول د تذکېي، د ټولنو مشارکت او معافیت په اړوند مسلو باندي تبلیغ کوي چې د دغه پروسې د اعتبار لپاره ډېر مهم دی او د افغانې ټولنو له خوا په قوي توګه غوښتنه کړې. در راپور په موده کې، د امنیت شورا کمېټه چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱ )د پریکړي پر بنسټ رامنځته شوي، د حکومت په غوښتنه دري نور کسان هم د تعذیراتو د لست څخه ایستلې دې.

۶. وروسته له هغه چې د افغانستان د ملې شورا ولسې جرګه د ولسمشر له خوا د ۹ نوماند وزیرانو ته په بېساري ډول د اعتماد رایه وکړل، اوس ټوله کابېنه د قانون جوړنې د ستنې اعتماد تر لاسه کړې دی. د جون د میاشتې په ۲ نېټه ولسې جرګه د ستري محکمې دوه غړي ته د اعتماد رایه ورکړه چې په هغه کې عبدالمالک کاموي د اعتماد رایه وګټله خو محمد سرور دانش د عدلیې پخوانې وزیر او د عالې زده کړي سرپرست وزیر د جرګې له خوا رد شو. نوي قاضی القضات لا تر اوسه ندی نومول شوي.

۷. که څه هم ورو و، خو د قانون جوړنې په اجنډا کې پرمختګ تر سره شوي چې ولسې جرګه د ملکې هوایي چلند، د قضایي ځواک د جوړښت او د پولیس افسرانو ذاتې چارو قوانین تایید کړي. همدارنګه د مشرانو جرګه د ملکې هوایې چلند قانون، د افغانستان او هندوستان تر منځ د ستراتیژیک همکاري تړون او د ۲۰۱۰ کال د غازو د نل لیک د کاري چوکات تړون چې د افغانستان، هندوستان، پاکستان او ترکمنستان تر منځ لاسلیک شوي و، تایید کړي. د اپریل په ۲۱ نېټه د ۱۳۹۱ کال د افغانستان ملې بودجه (د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت بیا د ۲۰۱۲ کال تر دسمبر پوری چې د بودجې جوړولو په دوره کې د بدلون له امله لنډ کړاي شوي) وروسته له هغه بیا له سره جوړ شو چې دوه ځله د ولسې جرګې له خوا رد شو. په بیا کتل شوي بودجه کې کابل بانک ته د کلنې پیسو بیا ورکولو په اندازه کې د ۸۰ میلیون ډالر څخه ۶۵ میلیون ډالرو ته راټېټول او د روغتیا، روزنې او حلقوي سړکونو په پروژو کې ۵ میلیون ډالر اضافه کول، شامل دې.

۸. لا مخکې ځایی سیاسې ګټې په پراخه پیمانه پر راتلونکې ټولټاکنو، په ځانګړي ډول پر ولسمشري ټاکنو، باندې مرکوز شوي چې د اساسې قانون پر بنسټ په ۲۰۱۴ کال کې به ترسره شي. ولسمشر کرزي په خپله وینا کې چې د افغانستان په اړه د ناټو په ۲۵ سرمشریزه غونډه په شیکاګو کې د مې د میاشتې په ۲۱ نېټه واورول، دا یې تایید کړ چې د ۲۰۱۴ کال ټاکنې به یو ډېر مهم پړاو وي او په تکرار سره ویل چې څرنګه چې د افغانستان اساسې قانون یو کس ته د دوو ځلو څخه زیات اجازه نه ورکوي چې په ولسمشری ټاکنو کې ځان کاندید کړي، دی به هم بیا ځان نه کاندیدوي. د ولسمشري راتلونکې ټاکنې به د طالبانو د رژیم وروسته هغه ټولټاکنې وي چې دی پکې نوماند ندی. د ټولټاکنو د

حقوقي چوکاټ د پیاوړی کولو په هڅو کې د ولسي جرګې د قانون جوړونې د کمیسیون له خوا د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د جوړښت او مسولیتونو قانون تر بحث لاندي نیولي او د عدلیې د وزارت له خوا د ټاکنو د یو پراخ قانون باندی بیا کتنه، شامل دي. د اپریل په ۴ نېټه د ټاکنو د کمیسیون کمشنران د ولسمشر سره وکتل چې د هغه سره د ټاکنو د قانون په اړوند خپل وړاندیزونه شریک او ور باندي بحث وکړي. د دي وروسته د اپریل په ۲۱ نېټه کابل په پوهنتون کې یوه مشورتي غونډه تر سره شوه او د ښېړو ولایتونو په مرکزونو کې د عامه پوهاوي غونډې ترسره شوي. د ملګرو ملتونو د پرمختیا د پروګرام د تخنیکي مرستو پروژه چې ایلیکټ دوهم (د سبا ورځې د ټاکنو حقوقي ظرفیت پیاوړي کول – دوهم پړاو) په نوم یادیږي په کمیسیون کې د ظرفیت رامنځته کولو په خاطر خپل ملاتړ ته دوام ورکوي چې اوس مهال د راي ورکوونکو د ثبت او راجستر کولو باندي ځانګړي تمرکز لري. د ملګرو ملتونو د پرمختیا پروګرام تر مشري لاندي د جون د ۲ تر ۲۰ نېټې پوري د امکاناتو د مطالعې کار دوام لري چې د رایه ورکوونکو د لا ښه ثبت کولو لپاره یو پایښت لرونکي میکانیزم په طرح کولو کې به مرسته وکړي.

۹. دوه ستر سیاسې مخالف ائتلافونه، د افغانستان ملې جبهه او د افغانستان ملې ائتلاف، د اپریل په ۳۰ نېټه یوه ګډه اعلامیه خپور کړل چې په هغه کې د ټاکنو د قوانینو ژر تایید، د ملګرو ملتونو ستر تعامل او د اساسي قانون پر بنسټ د ولسمشریز ټاکنو ترسره کیدل غوښتل شوي وو. د ولسمشریز ټاکنو موضوع څکه یاده شوي چې ولسمشر د اپریل په ۱۲ نېټه په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل: د دې خبري په پام کې نیولو سره چې د امنېتي بشپړ مسولیت په ۲۰۱۴ کال کې افغانانو ته به انتقال شي، نو دوي پر دي غور کوي چې ایا دغه ټاکنې په ۲۰۱۳ کال کې تر سره شي او که نه. د حق او عدالت ګوند د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې د مخکښو سیاسې څېرو، مدنې ټولنو او د کورنیو چارو پخوانې وزیر حنیف اتمر په ګډون د یوي شورا مشري کول چې دوي هم د ټاکنو د لا ښه کاري چوکاټ او د ټاکنو د ترسره کیدو په خاطر ورته غوښتنې یې په یوه ۱۳ ماده ای سند کې وړاندي کړ چې د مې د میاشتې په ۹ نېټه خپور شو. د هغه راهېسي د ملې جبهې ائتلاف د افغانستان په شمال زون کې یو لړ لاریونونه تر سره کړل. د ائتلاف مشر احمد ضیا مسعود او همدارنګه جنرال عبدالرشید دوستم او حاجې محمد محقق د دوو سترو ګوندونو بنسټ ایښودونکې د جوزجان او فاریاب په ولایتونو کې د مې د میاشتې پر ۹ او ۱۶ نېټو کې، په زرګونو راټول شوي وګړو ته ویناوې وکړې. کوم موضوع ګانې چې ورباندي خبري شوي د سولې او ټاکنو په اړوند د حکومت تګلاره، د امنېتي مسولیت د ژر لیږد او د حکومت د پوځې ځواکونو د تیاري په اړوند اندېښنه او د قدرت د انتقال په ګډون وو.

۱۰. زما ځانګړي استازی یان کوبیش او یوناما په فعاله توګه د افغان چارواکو او برخوالو سره د ټاکنو پر موضوعګانو او د یو پراخ بنسټه او شفافه ټاکنو چې د داخلې او خارجې لاسوهنو څخه پاک وي، خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. د ټاکنو په اړوند د یوناما د دندو او ماموریت پلې کول، د حکومت چارواکو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د افغان سیاسي او مدنې ټولنو د استازو او نړیوالې ټولنې سره تر بحث لاندي نیول شوې. همدارنګه ما هم په تېره میاشت کې د ناټو د سرمشریزه غونډې په څنډه کې د ولسمشر کرزی سره په ناسته کې د ټاکنو پر موضوع باندي خبري وکړ.

۱۱. د دوه کاله خبرو اترو وروسته په پای کې د افغانستان و متحده ایالاتو هیوادونو تر منځ د ستراتیژیک همکاري تړون د مې د میاشتې په ۱ نېټه لاسلیک شو. دا د هغو پوهاوي یادښتونو وروسته د دوو هیوادونو تر منځ تر لاسه

شو چې يو يې د توقيف خانې په اړوند و (د مارچ په ۹ توافق تر لاسه شو) او بيل يې د ځانګړي عملياتو په اړوند و چې (د اپريل په ۸ وربانديې توافق وشو) چې د امنيتي مسوليت د ليږد د اصولو سره سم افغانانو ته د مشرتوب او نظارت ښې چاري اماده کوي. تړون په پراخه پيمانه د ولسي جرګې له خوا د مې د مياشتې په ۲۶ نېټه او د مشرانو جرګې له خوا د جون د مياشتې په ۳ نېټه تاييد شول چې په خپله د يو لړ موضوعاتو په اړوند د دوامداره ژمنې لپاره پياوړې نښه ده او د زياتو افغانې برخوالو له خوا ستايل شوی دی. د نړيوال پوځ موجوده حضور او د هغه مشخص وضعيت او موقف په ډول حساس موضوعات لا هم پاتې دي چې بايد وربانديې خبري وشي. همدارنګه ولسمشر کرزی د مې په مياشت کې د افغانستان په استازيتوب د جرمني او استراليا د هيوادونو سره د همکاری تړونونه لاسليک کړ. او د جون په ۸ نېټه افغانستان او چين خپل هوډ اعلان کړل چې دوي به د همکاري او مشارکت ستراتيژيک تړون لاسليک کړي.

۱۲. د اپريل په ۱۹ نېټه په بروکسل کې د ناټو د هيوادونو د وزيرانو په غونډه کې زما ځانګړي استازي ټينګار وکړ چې د نړيوالو پوځې ځواکونو طرحه شوي وتل بايد پدی معنا نوي چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو سره اوږد مهاله ملاتړ او يا د افغانستان لپاره د اقتصادی او ټولنيز پرمختيا پلانونه هم له منځه ولاړ شي. همدارنګه دي اصرار وکړ چې اړتيا ده تر څو د ملکي کسانو تحفظ د امنيتي مرستو د ژمنو سره وتړل شي. هغه دې ته ورته غوښتنې د اپريل په ۱۷ نېټه په برکسل کې د اروپايي اتحادیې په يوه مشورتي غونډې کې هم وړاندي کړ. د مې په ۲۱ نېټه ما د افغانستان په اړوند د ناټو سرمشريزي په ۲۵ غونډه کې چې په شيکاګو داير شوي او تر ۶۰ هيوادونو زيات مشران پکې ګډون کړې وو، برخه واخېست. ګډونکوونکو يو ځل بيا د نړيوال پوځې ځواکونو د وتلو پر مهال ويش او د افغان امنيتي ځواکونو پر ملاتړ ټينګار وکړل. په غونډه کې داسي اټکل وشو چې د افغانستان ملي پوځې ځواکونو د دوام لپاره هر کال ۴،۱ بيليون امريکايي ډالر مرستو ته اړتيا لري او تر دې دمه د سخاوتمندانه مرستو د اعلان له لاري چې دغه ژمنه به پوره شي، غونډه د ښه اعتماد او باور انځور وړاندي کړ. ملګري ملتونه د افغانستان په امنيتی ځواکونو کې د حسابورکووني د ميکانيزمونو باندي د پاملرنې په اړوند خپل ملاتړ ته به دوام ورکړي تر څو د ملکي کسانو او همدارنګه په وسله واله شخړه کې د ماشومانو خونديتوب او همدارنګه د امنيتي مسوليت د ليږد او د ليږد وروسته پروسه کې د امنيتي په چوکاټونو کې د ښځو او نجونو د ځانګړي اړتيا د اصلی جز په ډول تضمين او ډاډمن شي. همدارنګه ملګري ملتونه د دي خبري ملاتړ کوي چې امنيتي او سياسي انتقال يو له بل سره جلا نوي چې په هغه کې د ټاکنو پروسه، د سولې او مصالحی خبري او همدارنګه اقتصادی او ټولنيز پرمختګ هم شامل دي.

### ب. امنېتي پرمختګونه

۱۳. د افغان – ناټو د انتقال بورډ د مې د مياشتې په ۱۰ نېټې غونډه کې د امنيتي مسوليت د ليږد دريم پړاو تاييد کړ او په دغه غونډه همدرانګه تشخيص شو کله چې د امنيتي مسوليت د ليږد پروسه په بشپړ ډول ترسره شي نور جګړې ته ميلان سبې په پروسه کې داخليري او ننګوني لا پسې زياتيږي. دريم پړاو د ولسمشر کرزی له خوا د مې د مياشتې په ۱۳ نېټه لاري ته واچول شو چې په دغه پروسه کې د ټول ولايتونو مرکزونه په هغه کې شامل دي. د کاپيسا، پروان او اروزګان د ولايتونو د پاتې ولسواليکانو په شامليدو سره، ۱۱ ولايتونه د امنيتي مسوليت د ليږد پروسه بشپړ

شوي چې په دې ډول ۷۵ سلنه وګړي اوس په هغو سیمو کې ژوند کوي کوم چې د لیږد پړاو يې تېر کړي دی. د امنيتې لیږد دوه لومړني پړاونه د پلان سره سم پلې شول. چې په دغو سیمو کې ستر ولسي ناارامی نه دی ترسترګو شوي او همدارنګه په دغو سیمو کې د فصلی امنيتي رجحانات هم ډیر توپیر نه دی کړي.

۱۴. ملګري ملتونه د ملکي فعالینو امنیت، خوځښت او د کار اړوند د امنيتي پېښو څارنې ته دوام ورکوي، په ځانګړي ډول هغه پېښې چې د ملګرو ملتونو له خوا ورکړ شوي پروګرامونو او فعالیتونو په وړاندې کولو کې اغېزه لري. د راپور ورکولو په موده کې، د ۲۰۱۲ کال د فبروري د ۱ بيا د اپریل تر ۳۰ نېټې پوري، په واضح توګه د ۲۰۱۱ کاله د ورته مودي په پرتله لږ امنيتي پیښې راپور ورکړ شوي. چې دغه شمېر زیاتره د ۲۰۱۰ کال سره پرتله کیږي. د اپریل په میاشت کې ۱۴۱۲ امنیتي پېښې راپور ورکړ شوي چې ۲۰۱۱ کال د اپریل د میاشتې په پرتله ۲۸ سلنه ټيټ دی (۱۹۶۹ امنيتي پېښې)، د مارچ په میاشت کې ۱۰۹۹ پېښې ثبت شوي چې په تېر کال کې ۱۹۶۴ پېښې وي او د فبروري په میاشت کې ۱۰۳۲ امنيتي پېښې ثبت شوي چې د ۲۰۱۱ کال په فبروری میاشت کې ۱۳۹۴ پېښې وي. داسې ارزول شوي چې په پېښو کې دغه کمښت یو لړ فکتورونه لري چې په هغه کې خرابه هوا، د افغان او نړیوالو ځواکو بریالې هڅې د ساري په ډول زيات ګرفتاریګانې او د زیرمو پیدا کول، او د طالبانو د مشرانو له خوا نوي سیاسي موقف غوره کول، د جنګیالیو تر منځ د سولې د خبرو په اړوند بې باوري او د نړیوالو ځواکونو وتل شامل دې.

۱۵. د هیواد سهیل، سهیل لویدیځ او لویدیځې سېمې د دغو پېښو ۷۰ سلنه شاهد وو چې په هغه کې وسله واله شخړه او تعبیه شوي چاودیدونکې توکې اصلی مسول ګڼل کیږي. د انتحاري بریدونو شمېر د تېر کال په پرتله لږ وو چې یو لامل یې د افغان او نړیوالو ځواکونو ځواکونو عملیاتونه وو چې د هغه په ترځ کې انتحاری وسایل او چاودیدونکې توکې کشف او ضبط شوي. د فبروري او مارچ په میاشتو کې څلور انتحاري بریدونه ثبت شوي چې دغه شمېر د تېر کال په ورته مودو کې په ترتیب سره ۹ او ۱۳ وو. دغه شمېره د اپریل په میاشت کې ۱۴ بریدونو ته ورسید چې بيا هم د تېر کال د ورته مودي په پرتله، چې ۱۷ بریدونه وو، لږ دی. د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت دا په نښه کړه چې دا ډول بریدونه د یوي میاشتې په ترځ کې، د مرکزې لوړو سیمو پرته، په ټول هیواد کې تر سره شوي. د ۲۰۱۲ د مې په میاشت کې ۱۰ ځانمرګې بریدونه راپور ورکړ شو چې دغه شمېره د ۲۰۱۱ کال د مې په میاشت کې ۱۵ بریدونه ثبت شوي وو. بلواګر ځانمرګې بریدونه په پراخه پیمانه هغه مهال کاروي چې مقاومت ونشي کړاي، او یا د ستر نظامې ځواکونو له خوا چې په سپکو او درندو سلو سره سمبال وي تر محاصري لاندي نیول کېږي.

۱۶. دغه قضیه د اپریل په میاشت کې واقع شو کله چې بلواګر د لوړې کچې همغږي شوي بریدونه پر کابل، لوګر، پکتیا او ننګرهار باندي مرکوز کړل. په دغه بریدونو کې ملي شورا، د افغان امنيتې ځواکونو تاسیسات او دولتي دفترونه په نښه شول چې د هغه له امله یو شمېر بین المللی سفارتونه هم په مستقیم ډول اغیزمن شول. د افغان چاروکو په حواله ۴ ملکي کسان وژل شوي، ۳۲ تنه ژوبل شوي، ۱۱ افغان خدماتې پرسونل وژل شوي، ۴۲ تنه يې ژوبل دي، او همدارنګه ۳۶ بلواګر وژل شوي او یو تن نیول شوي دی. د همدي ډول پېښو په غبرګون کې افغان ملې امنيتي ځواکونه په پراخه پیمانه اغیزمن عمل تر سره کړي. د مې د میاشتې په ۲ نېټه طالبانو خپل د پسرلي عملیاتو پیل د الفاروق په نامه اعلان کړل. طالبانو په خپل اعلامیه کې جنګیالیو ته ویلي چې د ملکي خلکو خوندیتوب د دوي په لومړیتوبونو کې دی خو وروسته دوي یو شمېر ملکي کسان، د حکومت لوړ پوړي چارواکې، د ملي شورا غړي او د سولې د عالې

شورا غړي د هدفي وژنو په لست کې شامل کړل کوم چې د نړیوال قانون له مخې ملکي وګړي ګڼل کیږي. د مې د میاشتې په ۲ نېټه سهار وختي یو موټر بم په کابل کې د یو نړیوال هستوګن ځاي مخته وچاودید چې طالبانو د هغه مسولیت په غاړه واخیست. په پېښه کې د ښځو او ماشومانو په ګډون اته تنه ملکي کسان ووژل شول او ۱۱ تنه نور ژوبل شول. د جون په ۶ نېټه د کندهار، فاریاب، بلخ او پکتیکا په ولایتونو کې پر ملکي ځایونو باندې د طالبانود بریدونو له امله ۲۶ تنه ملکي کسان ووژل شول او ۶۷ تنه نور ټپیان شول.

۱۷. د ډار او ارعاب کمپاین سره د مخورو سیاسي څېرو او مذهبي مشرانو ترور ډېر شدید وو. څرنګه چې د مولوی رحماني د ترور په قضیه کې ولیدل شو، د مرتکبینو هویت، د قدرت پر سر د ټولو خواوو د سیالۍ په خاطر، پټ ساتل کیږي. د دغه پېښو تر نیمايي زیات شمېر د هیواد په سهیلي ولایتونو کې، په ځانګړې ډول په کندهار کې تر سره شوي، چې په هغه کې یوه پېښه د اپریل په ۲۸ نېټه د ولایت پر والي باندې تر سره شو چې دوه تنه بریدګر کمپوند ته داخل شول خو د امنیتي ځواکونه سره په مقابله کې ووژل شول او د دوي برید شنډ شو. د مې په ۱۷ نېټه څلور تنه بریدګر د فراه ولایت د والي پر دفتر برید تر سره کړل چې په ورته ډول خنثی شو.

۱۸. همدارنګه افغان ملي امنیتي ځواکونه، په ځانګړې ډول افغان ملي پولیس هم په دغه کمپاین کې تر هدف لاندې نیول شوی وو. پر افغان ملي پولیس باندې کابو د دغو بریدونو ۷۰ سلنه ترسره شوي چې پر ټول امنیتی ځواکونو باندی تر سره شول، او د دغه ځواک ۸۷۵ تنو ته تلفات اړولي، او په بله معنا د امنیتي ځواکونو د ټولو تلفاتو او همدارنګه د زیات شمېر هدفي وژنو، ۷۰ سلنه جوړوي.

۱۹. د افغان ملي پولیس د ۱۵۷۰۰۰ تنه پرسونل او د ملي پوځ ۱۹۵۰۰۰ پرسونل د ټاکل شوی هدف پلې کول چې باید د ۲۰۱۲ کال تر پایه پوري بشپړ شي، د خپل پروګرام څخه مخ ته روان دی او اټکل شوی چې د مې د میاشتې تر نیمايي پوري کابو ۱۴۹۶۰۰ تنه پولیس پرسونل او ۱۹۴۵۰۰ پوځ پرسونل عملاً په دندو کې فعال وي. په شیکاګو کې د ناټو د سرمشریزي غونډې د تیاري په درشل کې، د اپریل په اومه نېټه د ګډ نظارت او همغږي د بورډ د دایمي امنیتي کمېټې په غونډه کې د ۲۰۱۴ کال وروسته د افغان امنیتي ځواکونو لپاره د جوړښت یو عمومي موډل تایید شو. تمه کیږی چې د دغه کاری چوکاټ موډل به د امنیتي اوضاع او غوښتنو او اړتیاوو د انکشاف سره سم نور هم وده وکړي.

۲۰. د پولیس د شمېر په ګډون د دوي د بیلابیل امنیتي دندو په اړوند یوه ناسته ترسره شوی او دغو موضوعات تر جدی بحث لاندي ونیول شو په ځانګړې ډول د پولیس د ځواک ملکي دندي اړتیا، د دغه ځواک نور مسلکي کول او همدرانګه په کورنیو چارو وزارت کې د نهادونو د سمون او نظارت د میکانیزمونو پیاوړی کول. د کورنیو چارو وزارت د اپریل په میاشت کې د پولیس ملي پلان پلي کولو ته تیار کړ چې په هغه کې د ټولنو پر بنسټ د پولیس چارې تر سره کول، د جرمونو د کشف او مخنیوي د میکانیزم پیاوړي کول، د بشري حقوق خوندي کول او د ښځو او ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي سره مبارزه کول په لومړیتوب کې شامل دي. همدرانګه دغه پلان یو د تهور ډک هدف ځانته ټاکلې چې د ۲۰۱۴ کاله پوري د موجوده ۱۳۷۰ تنه ښځینه پولیس په څنګ کې ۵۰۰۰ نور نوي ښځینه پولیس په کار وګماري. د اپریل په ۱۰ نېټه د کورنیو چارو وزارت د مردمي پولیس ریاست فعال کړ تر څو د پولیس فعالیتونه د ټولنو

په کچه همغږي کړي او د مدني ټولنو سره اړيکه ونيسي چې د پوليس ځواک حسابورکوونه او اغيزمن غبرګون زيات کړي. يوناما په پر له پسې توګه د دغو هڅو پياوړي ملاتړ کوي چې په هغه کې د ګډ نظارت او همغږی بورډ د امنيتي دايمي کميټه کې د دغه دفتر د ګډ رياست ونډه هم شامل دی.

۲۱. د افغان ځايي پوليس ځواک هم په پرله پسي ډول پراختيا مومي چې د مې د مياشتې تر نيمايي پوري ۱۳۰۰۰ پرسونل په ۶۵ ځايونو کې فعاليت پيل کړی. تمه کيږی چې دغه ځواک زياتره پر دفاع باندي تمرکز وکړي او تر اوسه په يو شمېر ځايونو کې د ټيکاو په راوستلو کې مرسته کړي. د دغه ځواکونو د معافيت، تذکيې او کنټرول او قوماندي په اړوند ستري اندېښنې شتون لري او د دي ګواښ هم شته چې دغه ځواک د يو قومی او يا سياسي ميلان پر بنسټ د مليشي په ډول بيا سر پورته نکړی. يوناما په پر له پسې توګه د کورنيو چارو وزارت او د متحده ايالاتو د پوځ سره د دغو موضوع ګانو او په ځانګړي ډول د بشري حقونو د تيري د ادعاګانو په اړوند، په تعامل کې دی. يو شمېر جدي پېښې ثبت شوي چې په ظاهره کې د افغان ځايي پوليسو پرسونل پکې شامل وو. د پکتيا ولايت څخه راپور ورکړ شوي چې د مارچ په ۲۶ نېټه يو شمېر ځايي پوليس يو امريکايي سرتېري يې وژلي، د مارچ د مياشتې په ۳۰ نېټه ۹ تنه ځايي پوليس د دوي د يو همکار له خوا ووژل شول او د اپريل په مياشت کې يو شمېر ځايي پوليس ونيول شول او د دوي څخه انتحاري واسکټونه راووتل. د مارچ په ۷ نېټه د اروزګان په ولايت کې يو ځايي پوليس خپل نږدي قريب وواژه او ويل کيږي چې د مارچ په ۳۱ نېټه ۱۱ تنه ځايي پوليس د يو شمېر زياتو وسلو او تجهيزاتو سره د بلواګرو سره يو ځای شوې.

۲۲. د دي برسېره داسې راپورونه تر لاسه شوي چې په ټول امنيتي ځواکونو کې پرسونل او يا منفرد کسان په يونيفورم کې خپل ملګري او يا نړيوال همکاران وژني چې د اندېښنې يو جريان يې را منځته کړي دی. په دغه پېښو کې د مې د مياشتې په ۱۲ نېټه د هلمند په ولايت کې د پوليسو يو افسر دوه تنه برتانيوي سرتېري ووژل او د مارچ په ۲۶ نېټه د هلمند په ولايت کې د ملي پوځ يو افسر دوه تنه برتانيوي سرتېري ووژل.

۲۳. د مارچ د مياشتې د ۲۱ نېټي وروسته ټول شخصي امنيتي کمپنۍ ګاني، د هغو کمپنۍ ګانو پرته کوم چې د ايساف ځواکونو او يا د ديپلوماتيکو ځايونو ته امنيتي خدمات وړاندي کوي، بايد د افغان عامه نظم پوليس ځواک ته انتقال شي چې د کنټرول چاري د کورنيو چارو وزارت له خوا پر مخ بيول کيږي. څرنګه چې دغه تاريخ تېر شوي دی د پلې کولو کار پيل شوي تر څو د جون د مياشتې تر ۲۱ نېټې پوري بشپړ شي. دغه کار تر اوسه سم روان دی خو يو شمېر شخصي کمپنۍ ګاني او پرمختيايي موسسې چې د شخصی امنيتي کمپنۍ خدمات له لاسه ورکړي، ترجيح ورکړي چې خپلې موسسې او کمپنۍ بند کړي. يو شمېر د ګواښ د مديريت موسسې رامنځته کړي تر څو د نوي ځواک او د هغوي د مشتريانو تر منځ تعامل مديريت کړي.

**ج. سيمه ييزه همکاری**

۲۴. د افغانستان او د سيمې د هيوادونو تر منځ سياسې ډيالوګ او همکاري مخ په وړاندي روان دی، او د افغانستان په اړوند د استانبول د کنفرانس د پروسي د پلي کولو سره دوام لري: امنيت او همکاري د آسيا د زړه په

هیوادونو کې، نومبر ۲۰۱۱. د سترو چاواکو دویمه غونډه د اپریل په ۱۸ نېټه د ترکمنستان له خوا په عشق آباد کې جوړ شوي و. د څلور هیوادونو ګډون کوونکې او د یوناما هیئت پر هغو عملي ګامونو باندي بیا کتنه وکړل چې د اعتماد د رامنځته کولو تدبیرونو اوه لومړیتوبونه پلي کړي. د مې د میاشتې په ۲۶ نېټه په کابل کې میشت سفیرانو په یوه کلیدي اصلي ډله کې سره ولیدل تر څو د راتلونکې وزیرانو کنفرانس پر تیاریو باندي بحث وکړي چې د جون پر ۱۴ نېټه په کابل کې دایریږي. داسې انګیرل شوي چې د ملګرو ملتونو اړوند موسسات، وجهو او پروګرامونه به د اعتماد د رامنځته کولو په تدبیرونو کې تعامل ولري.

۲۵. د افغانستان په اړه د اقتصادی همکاری پېنځم سیمه ییز کنفرانس چې د مارچ په ۲۶ او ۲۷ نېټه په دوشنبه کې دایر شوي و، پر سیمه ییز اړتیاو پر لومړیتوب باندي تمرکز درلود. ګډونکوونکو د ۱۷ پروژو د پلي کولو په خاطر چې د بودجې لپاره د جولاي په میاشت په توکیو د افغانستان په اړوند په نړیوال کنفرانس کې به وړاندي شې، د کوټلې او د پیمایش وړ ګامونو د اخیستلو ژمنه وکړل.

۲۶. د مارچ په ۳۰ نېټه په بېجینګ کې د شانګهاي د همکاری سازمان د سیمه ییز امنیت په اړوند د مرستیال وزیرانو پېنځمه مشورتي غونډه جوړه شوه. په دغه غونډه کې افغانستان د خبرو په محراق کې واقع و چې په هغه کې د سیمه ییز امنیت په اړوند ژوري خبري تر سره شوي. ټول ګډونوال په یو غږ سره سلا شول چې ټول سیمه ییز هیوادونه باید د سیمې د امنیت، ټیکاو او پرمختیا په خاطر همکاری نوره هم پیاوړي کړي. د جون په ۷ نېټه د شانګهاي د همکاری سازمان اعلان وکړ چې په دغه سازمان کې افغانستان ته د ناظر غړی موقف ورکوي.

۲۷. د افغانستان، پاکستان او د متحده ایالاتو د سترو چارواکو د کلیدي ډلي شپږمه غونډه د اپریل په ۲۷ نېټه په اسلام آباد کې جوړه شوه. په دغه غونډه کې دوه کاري ډلې رامنځته شول چې د سولې هڅې تسهیل کړي: یوه ډله د ملګرو ملتونو د ملګرو ملتونو د دایمې ماموریتونو په کچه چې د امنیت د شورا سره د همکاری دنده پر مخ بیایي او دوهمه ډله د هغو سترو طالبانو چارواکو لپاره کوم چې غواړي د افغانستان د حکومت سره خبري وکړي د مصؤن سفر او تګ راتګ زمینه برابروي.

۲۸. زما ځانګړي استازي پر سیمه ییز لاسرسی باندي تمرکز کړي او پدي لړ کې هندوستان، د ایران اسلامی جمهوریت، پاکستان، تاجکستان، ترکیه او ازبکستان ته رسمي سفرونه تر سره کړي. همدارنګه دی د افغانستان په اړوند د اقتصادي همکاري د پېنځم کنفرانس په څنډه کې د ایران د اسلامي جمهوریت او د تاجکستان د ولسمشرانو سره وکتل او همدارنګه د وزیرانو په کچه د مرکزي آسیا د پولو د امنیت د نوښت په کنفرانس کې چې د اپریل په ۱۶ او ۱۷ په ویانا کې جوړ شوي و او د پولو پر امنیت باندي چې باید د قاچاق، منظم جرمونه او ناقانونه مهاجرت سره پر مبارزې باندي تمرکز درلود، ګډون کړي دی. همدارنګه دی د مې د میاشتې په ۱۴ نېټه په اروپا کې د امنیت او همکاري سازمان د سیاسې او امنېتي چارو د کمېټې د غړو سره بحثونه تر سره کړ. په ټولو غونډو کې په افغانستان کې د ټیکاو د پیاوړتیا په خاطر د سیمه ییزي همکاري مهمه ونډه په ګوته او په تکرار سره په افغانستان کې د کوکنارو ناقونه کښت له امله وړاندي شوي ګواښ ته اشاره شوي.

۲۹. د يو معقول حل لاري د موندلو پخاطر، د افغانستان او ګاونډي هيوادونو د مخدره توکو سره د مبارزي سيمه ييز پروګرام چې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر له خوا يې ملاتړ کيږی، خپل د رهبرۍ د کمېټې لومړي غونډه په ويانا کې د مارچ پر ۱۴ نېټه تر سره کړي. د افغانستان، د ايران اسلامي جمهوريت، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان د هيوادونو استازي، پر پولو باندي په نښه شويو عملياتونو، او د قانون د تنفيذ او عدلي نهادونو تر منځ د علمياتي شبکې د پياوړی کولو په ګډون، د لومړيتوب اقدامات تاييد کړل. همدارنګه دغه پروګرام د جون په ۱ نېټه د وزيرانو په کچه لومړني دري اړخيزي غونډې ملاتړ کړي چې په دوشنبه کې د افغانستان، قرغزستان او تاجکستان هيوادونو تر منځ نوي فرعي سيمه ييز د همکاري چوکاټ په خاطر جوړ شوي و، د افغانستان، ايران او پاکستان تر منځ د دري اړخيزي نوښت همکاری چټکوي.

**دريم: بشري حقونه**

۳۰. يوناما د فبروري د ۱ نېټي څخه بيا د اپريل تر ۳۰ نېټي پوري ټولټال ۱۳۲۲ د ملکي تلفاتو پېښې (۳۹۶ تنه وژل شوي او ۹۲۶ تنه ژوبل شوي) ثبت کړي چې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودي په پرتله، ۱۷۹۷ ثبت شوي ملکي تلفاتو پېښې (۶۷۸ تنه وژل شوي او ۱۱۱۹ تنه ژوبل شوي وو) کمښت تر سترګو کيږي. د حکومت ضد عناصر بيا هم د ملکي تلفاتو د ستري برخي مسوليت په غاړه لري چې ۱۰۲۹ پېښې او ۷۸ سلنه جوړوي. حکومت پلوه ځواکونه د ثبت شوي ۱۳۶ پېښې (۱۰ سلنه) مسوليت په غاړه لري. د ثبت شوي پېښو ۱۵۷ قضېي (۱۲ سلنه) مسوليت کومې ډلې ته ندي منسوب شوي. په عمومي ډول سره د حکومت ضد عناصر له خوا د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۷ سلنه کمښت تر سترګو کيږي چې ۲۸۶ ملکي وژني او ۷۴۳ ملکي ژوبلې ثبت شوي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۱ کال کې د ورته مودي د تلفاتو شمېر ۳۹۵ ملکي وژني او ۷۰۶ ملکي ژوبلې ثبت شوي وو. حکومت پلوه ځواکونه د ۶۶ ملکي وژنو او ۷۰ ملکي ژوبلې مسوليت په غاړه لري چې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودي په پرتله چې دغه شمېري ۲۰۹ ملکي وژنې او ۲۵۲ ملکي ژوبلې ثبت شوي وو، ۷۰ سلنه کمښت ښيي.

۳۱. پداسې حال کې چې د ملکي تلفاتو شمېر په عمومي ډول سره کمښت ښيي، خو په ځينو تاکتيکونو کې، په ځانګړي ډول هدفي ملکي وژنې چې لامل يې د حکومت ضد عناصرو له خوا د تعبيه شوي چاوديدونکې توکې کارول دي، زيات شوې دي. د فبروري د ۱ نېټي څخه بيا د اپريل تر ۳۰ نېټي پوري يوناما ټولټال ۴۱۷ ملکي تلفات (۱۲۲ ملکي وژنې او ۲۹۵ ملکي ژوبلې) ثبت کړي دي چې د تعبيه شوي چاوديدونکو توکو له امله رامنځته شوي او د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله ۶ سلنه زياتوالې ښيي چې هغه مهال دغه تعبيه شوي توکې د ۳۹۲ ملکي تلفات (۱۳۰ملکي وژنې او ۲۶۲ ملکي ژوبلې) لامل شوي وو. د ملکي تلفاتو دوهم ستر لامل ملکي هدفي وژنې وو چې د حکومت ضد عناصر هغه ملکي کسان وژلې کوم چې د حکومت او يا د نړيوال پوځې ځواکونو ملاتړ کوي. يوناما د دغه تاکتيک له امله ۹۱ ملکي وژنې او ۳۰ ملکي ژوبلې ثبت کړي چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله دغه شمېري ۷۴ ملکي تلفات (۵۸ ملکي وژنې او ۱۶ ملکي ژوبلې) ثبت شوي وو، ۶۳ سلنه زياتوالې ښيي.

۳۲. پداسي حال کې چې د حکومت پلوه ځواکونه د لږ ملکي تلفاتو لامل ګرځيدلي، په هوايي بريدونو کې د ملکي تلفاتو زيات شمېر د اندېښنې وړ دي. په يو هوايي بريد کې چې د جون په ۶ نېټه د لوګر په ولايت کې د نړيوالو پوځې

ځواکونو چورلکه پر یو ملکي کور باندي هوايي برید تر سره کړ چې هلته د حکومت ضد عناصر پټ شوي وو، د ۹ ماشومانو په ګډون ۱۸ ملکي وګړي وژول شول. د مارچ په ۲۳ نېټه د متحده ایالاتو یو سرتېري د دغه هیواد د یوي محکمې له خوا په ۱۷ مړینو باندي تورن شو کله چې دي میاشتي په پیل کې په یوه جلا پېښه کې د کندهار په دوو کلېو کې پر ملکي کسانو، چې زیاتره یې ښځې او ماشومان وو، په ماشیندار باندي ضربه کړي او وژلي وو. کله چې امنیتي مسولیت افغانانو ته انتقال شي او دوي د زیات شمېر عملیاتو مشري به په غاړه واخلي، ټول ځایي امنیتي اداري، د نړیوال په ملاتړ سره، باید په خپلو عملیاتو کې، د ملکي کسانو دتلفاتو د کمښت د مرکز د نوښت په رامنځته کولو سره، د ملکي کسانو خوندیتوب او د حساب ورکووني میکانیزمونه نهادینه کړي.

۳۳. په افغانستان کې د بندیانو شمېر په چټکۍ سره مخ پر زیاتیدو دی چې پر توقیف ځایونو او د هغوي پر کارکوونکو باندي فشار زیاتوي. د جنوري په میاشت کې د عدلیې وزارت څخه د کورنیو چارو وزارت د محابسو د عمومي ریاست انتقال یو لړ اندېښني را پورته کړي په ځانګړي ډول چې په ولایاتو کې د محابس مدیران د ولایت امنیه قوماندانۍ ته خپل د کار راپور ورکوي. د مارچ په میاشت کې د کورنیو چارو وزیر یو امریه صادر کړ او په هغه کې داسې ویل شوي چې دغه ریاست په خپلواک ډول خپل کارونه پلي کوي. د راپور په دوره کې یوناما په ۱۶ ولایتونو کې د ملي امنیت ریاستونو او پولیس چارواکو ته د بشري حقونو په اړوند روزنیز ناستي دایر کړي. همدارنګه یوناما د توقیف ځایونو څخه د مشاهدي پروګرام هم پر مخ بیولي چې په دې لړ کې د ۸۰ توقیف مرکزونو څخه لیدنه تر سره کړي چې د ملي امنیت د ریاست، ملي پولیس او د محابسو عمومي ریاست له خوا چاري پر مخ بیول کیږي او د شخړي په اړوند د توقیف شویو کسانو سره د دوي چلند ارزونه ترسره کړي. د مارچ په ۱۹ نېټه ایساف اعلان وکړ چې دوي د افغان ۱۳ توقیف خاني تایید کړي او کولاي شي انتقال دغه ځایونو ته له سره پیل شي څکه چې افغان چارواکي په دغه توقیف خانو کې د ناوړه چلند د مخنیوي په خاطر اقدامات تر سره کړي. ۱۶ توقیف خانو ته د بندیانو لیږد هغه مهال ودرول شو کله چې یوناما د ۲۰۱۱ کال د نومبر په میاشت کې؛ د افغان په توقیف ځایونو کې د شخړي په اړوند د توقیف شوو کسانو سره چلند؛ تر عنوان لاندي خپل راپور خپور کړ.

۳۴. د مارچ په ۲۶ نېټه افغانستان خپل د اجراتو لومړني کلني راپور د ماشومان په وسله واله جګړه کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازی ته استولي چې په هغه کې د لږ عمر د ماشومانو د پکار ګمارنې د مخنیوي لپاره د عمل د پلان پلي کول او د ماشومانو د جنسی تېري، وژنو او معیوبولو د مخنیوي ضمېمې هم شامل دي. پداسې حال کې چې حکومت د لږ عمر د ماشومانو په کار ګمارلو او د دوي په وړاندي د یو لړ جدی تېري په مخنیوي کې پرمختګ تر لاسه کړي، د حکومت ضد عناصر د ماشومانو څخه د کار اخېستلو پروسې ته ادامه ورکوي. د اختطاف، جنسي تېري او د بشري مرستو ته د نه لاسرسي په ثبت شویو پېښو کې کمښت راغلي دی. خو له بلې خوا د بلواګرو له خوا د تعلیمي موسسو پر ضد هدفمند او مخ پر زیاتیدونکې کمپاین د پراخې اندېښنې لامل شوي. د مې د میاشتې په دوهمه نېټه د ننګرهار په ولایت کې د حکومت ضد عناصر د نجونو یوه متوسطه ښوونځې ته اور واچول. د مې د میاشتې په ۱ او ۸ نېټه بلوګرو د پکتیکا ولایت د پوهنی د ریاست د رئیس پر کاروان باندي بریدونه وکړل. په دوهم برید کې پېنځه تنه ملکیان ووژل او ۷ تنه ژوبل شول. په تېرو نږدي وختونو کې د بلواګرو د تهدید له امله د غزني په ولایت کې تر ۲۰ زیات ښوونځي اړ شوي چې وتړل شي.

۳۵. یوناما په پر له پسې توګه د ښځو د حقونو د ترویج او خوندیتوب په اړوند مخ پر وده اندېښنې مشاهده کړې. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالې پېښې د اپیدیمي په ډول پاتې دی او ښځې په دوامداره توګه د خپل اقتصادي، ټولنیز او دوديز حقونو په بشپړ ګټې اخېستنې کې د ننګونو سره مخامخ دي. یوناما داسې پېښې مشاهده کړې چې قضايي چارواکې د کور څخه د ښځو تېښته د جرم په ډول ګڼې او هغه د زنا د تر سره کولو د هدف په خاطر توجیه کوي، پداسې حال کې چې د جزا په قانون داسې يو ماده او يا جرم شتون نلري. ولسمشر کرزي د مارچ په ۱۱ نېټه د ښځو د نړيوالې ورځې په مناسبت يو ځل بیا د حکومت ژمني د جنسیت پر برابري او اساسي حقونه، چې په اساسي قانون کې تضمین شوي، د ترویج بیا تکرار، په پراخه پیمانه هرکلي وشو. په دغه مناسبت ولسمشر د عفوې يو فرمان صادر کړ چې د هغه فرمان پر بنسټ يو شمېر زنانه بندیانې کوم چې د کور څخه د تېښتې په تور بندیان شوي وو، له بنده خوشي شول. د خپلو ژمنو د پیاوړی کولو لپاره، د ښځو سولې او امنیت په اړوند د امنیت شورا د ۱۳۲۵ ګڼې پریکړه لیک د اصول په خاطر، حکومت د هیواد په کچه، د تخنيکي کاري ډلو او څو سکتوری مشورو، چې د ملګرو ملتونو او نړیوال همکارانو له يې خوا ملاتړ کیږي، ډیالوګ او خبري اتري پیاوړی کړي دی چې تمه کيږي د هغه پایلې د عمل د يو پلان د طرحي لامل وګرځي چې پريکړه ليک پلي کړي.

۳۶. ملګري ملتونه د ولسي جرګې د ښځو د کمیسیون او د مدني ټولنې سره د ښځو په وړاندې د خشونت د منعه کولو د قانون په اړوند مشوري تر سره کړي او د ښځو د چارو د وزارت سره په دوامداره توګه کار کوي چې د مرکز او ولاياتو په کچه، د قانون په مطابقت سره، د ښځو په وړاندې د خشونت د منعه کولو کمیسیونونه رامنځته کړي.

## څلورم: د کابل د پروسې پلې کول او د مرستو ثابت دوام

۳۷. د افغانستان د حکومت او نړیواله ټولنه زیاته توجه د افغانستان په اړوند د نړیوال کنفرانس پر تیاريو باندي مرکوز دی چې تمه کيږی د جولای په ۸ نېټه په توکیو کې داير شي. دغه کنفرانس باید دکابل د پروسي ژمنې، سیاسي اعلامیې او د ملاتړ وعدي کوم چې د ۲۰۱۱ کال د نومبر په میاشت د بن په کنفرانس کې شوي وې او همدارنګه د افغانستان او د نړیوالې ټولنې تر منځ مشارکت، د امنېتي مسولیت وروسته او تحول په لسیزه کې (۲۰۱۵-۲۰۲۴)، واقعي او عملي بڼه ورته ورکړي. د توکیو د کنفرانس هدف دا دی چې نړیوال اوږد مهاله او د وړاندويلو وړ اقتصادي مرستې، پر مختګ، حکومتداری مرستي او همدارنګه سیمه ییز اقتصادی همکاری ډاډمن کړي. د تعقیب پر میکانیزم باندي د هوکړې، چې د ملاتړ او همکاري د پیش شرط په ډول د افغان چارواکو او ډونرانو ژمني د اوږدي مودي لپاره په دوره ای ډول ورباندي بیا کتنه وکړای شي، په ګډون، متقابل حسابورکونه باندي به ټینګار وشي.

۳۸. د افغانستان حکومت د ؛په افغانستان کې د ځای بسایني لپاره ملاتړ؛ تر عنوان لاندي یو سند جوړ کړي او نړیوال بانک د ؛لیرد اقتصاد؛ تر عنوان لاندي دوهم سند تیار کړي چې دواړه سندونه د افغانستان لپاره اقتصادی ستراتیژي بیانوي تر څو تر ۲۰۲۴ کال پوري لاستر ځان بساینه تر لاسه شي. د افغانستان حکومت پدي هڅه کې دی چې د توکیو د کنفرانس څخه وړاندي خپل سند د نظارت او همغږی د ګډ بورډ له خوا تایید کړي.

۳۹. د مې د میاشتې په ۲۹ نېټه د مدني ټولنو ۱۶ نهادونه په کابل کې یو کنفرانس دایر کړ تر څو پر دي باندي بحث وکړي چې مدني ټولنې د توکیو په کنفرانس کې کوم موقف ځان ته اختیار کړي. د ۳۴ ولایتونو څخه ډلې د دوامدار پرمختګ لپاره شرایط، د ښځو د حقونو پیاوړتیا، عدالت ته لاسرسی او د لیږد پر دوره کې د پرمختګ په پروسه کې د مدني ټولنې پر ګډون باندي بحثونه وکړل. دیرش ډلې وټاکلې شوې چې د کنفرانس څخه یوه ورځ مخکې یو د څنډي غونډه دایره کړي او دوه ډلې نور به عمومي غونډې ته وینا کوي.

۴۰. په ورته حال کې د مهاجرو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیسار دفتر د جاپانې چارواکو سره د جولاي په ۷ نېټه یو موازی پروګرام دایروي چې د افغانستان لپاره د بیا ادغام ملي ستراتیژي، د افغان مهاجرینو لپاره د سیمه ییز حل ستراتیژي – افغان کمپوننټ - باندي تمرکز وکړي. د ټولنې پر بنسټ تګلاره، چې د زیاتو بېرته ستنیدونکو په ۴۸ مرکزونو/سایټونو کې تجربه شوي د راتلونکې دوامدار بیا ادغام او پرمختګ فعالیتونو لپاره به یو موډل وي.

۴۱. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو تسلسُل د هغه غونډې د بحث مرکزي زړي و چې په هیواد کې د ملګرو ملتونو د موسسو د مشرانو او افغانستان د حکومت په استازیتوب، زلمي رسول د بهرنیو چارو وزیر تر منځ د مې د میاشتې په ۶ نېټه د بهرنیو چارو په وزارت کې جوړ شوي و. دا د افغانستان د حکومت او په هیواد کې د ملګرو ملتونو د ۲۷ موسسو د استازو ترمنځ لومړني داسي غونډه وه چې په هغه کې مشارکت تر بحث لاندي ونیول شو. زما ځانګړي استازي د ملګرو ملتونو پر ژمنو باندې ټینګار وکړ چې د ملي لومړیتوبونو څخه ملاتړ کوي ځکه چې افغان چارواکې د امنیت، حکومتولی او د پرمختګ په اجنډا ګانو کې لا زیات مالکیت په غاړه اخلي. په غونډه کې هوکړه وشوه چې دغه غونډه، د روان ډیالوګ د یو نهاد په ډول، په دوامدار توګه دوام ولري.

**پنځم: حکومتداری او د قانون حاکمیت**

۴۲. د هغو معیارونو په دوام کوم چې مخکې د کابل او لندن په کنفرانسونو کې تشخیص او تثبیت شوي وو، د حکومتولي یو لړ شاخصونه چې د توکیو د کنفرانس څخه مخکې ترتیب شوي وو، پر واقعي ګامونو باندي تمرکز لري چې د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو د وړاندي کولو لپاره بنسټیز ګڼل کیږي. دغه ۱۷ شاخصونه، د ځایي استازیتوب، د فساد په وړاندي مبارزه، اقتصادی حکومتولي، عدالت، بودجه جوړول او اجرا کول او د ظرفیت رامنځته کولو په اړوند ننګونو باندي تمرکز لري. د یوناما په تسهیل سره، نړیواله ټولنه او افغان حکومت پر دي باندي بحث کوي چې په څه ډول د دغو مهمو سمونونو د تحقق لپاره تر ټولو ښه ملاتړ اماده شي. همدارنګه د کابل بانک په اړوند د نړیوال مالی صندوق د معیارونو منل د کلیدي ډونرانو د غوښتنې په ډول پاتي دی.

۴۳. د نړیوالې ټولنې د شفافیت او حسابورکوونې د کاري ډلې د غونډې په جریان کې چې د مې د میاشتې په ۱۳ نېټه جوړه شوي وه، د نظارت او ارزونې کمېټه راپور وکړ چې د دوي د حسابورکوونې او شفافیت اړوند معیارونه ۴۰ سلنه پلې شوي او د اضافي ۴۰ سلنه کې کافي ستر پرمختګ شوي. پداسې حال کې چې راپور ښیي چې کمېټه د پایلو د وړاندي کولو څواک لري، خو بشپړ بریالیتوب د اداري فساد په وړاندي د پیاوړي سیاسي ارادي پوري تړلي دی. د جون په ۳ نېټه د نوماندانو کمېټه، ایوا جولي د فرانسي څخه او حسن چوهدری د بنګله دیش څخه د نظارت او

ارزونې د کميټې د دوو مستعفي شويو نړيوالو غړو پر ځای وړاندیز وکړ. اوسمهال د ولسمشر دفتر دغه وړاندیز باندې بيا کتنه کوي.

۴۴. د نړیوالې ټولنې د اندېښنو په پام کې نیولو سره، د قانون او عدالت په اړوند د ملي لومړیتوبونو پر پروګرام باندې بیا کتنه دوام لري، چې پر مدیریتي جوړښتونو او عدالت ته لاسرسي باندې تمرکز لري. یوناما د برخه والو سره به له نږدې کار وکړي چې د پولیس او د عدلي سکتور تر منځ، په ځانګړې ډول د لوي څارنوالي دفتر، د همکارې د پیاوړې کولو لپاره یوه ستراتیژي طرحه کړي

۴۵. د کابل په کنفرانس کې د جزايي اجراتو د ګډ مسوده چې د قانون جوړونې د لومړيتوب په ډول تشخيص شو اوس مهال ملي شورا ته استول شوې. د جزا ګډ د بيا کتنې او توحيد کولو کار د اپريل په مياشت کې پيل شوې. د بيا کتنې اړتيا کابو د دوو کلنو مخکې په پياوړې ډول ملاتړ کيده چې په هغه کې يو شمېر تعديلات د دې غوښتنه کوې چې د فساد په وړاندې مبارزه د ملګرو ملتونو د کنوانسيون سره په مطابقت کې وي.

**شپږم. پرمختګ او بشري مرسته**

۴۶. د یو یخ ژمې وروسته، سیلابونه په عادي حال کې د مارچ او جون په میاشتو کې لیدل کیږي چې د فبروري په میاشت کې پیل شوي وو او د دري میاشتو په موده کې په ۱۲۶ ولسوالیو کې ۱۷۳ پېښې ثبت شوي. د دغو پېښو انسانې زيان ډير زيات وو چې کابو ۲۰۶ تنه وژل شوي، ۸۲ تنه ژوبل شوي، تر ۱۱۰۰۰۰ تنه زيات بېځایه شوي او ۱۲۵۰۰ کورونه یا ویجاړ شوي او یا زیانمن شوي دي. تر دې زیاتره اغیزه پر زیانمن شویو ټولنو باندې، د دوي پر اقتصادي فعالیتونو او زیربناګانو باندې اغیزې دي. د ملي ناورین د مدیریت د کمېټې تر چوکاټ لاندې، بشري غبرګون پر ۲۰ ولایتونو باندې تمرکز کړې چې تر ټولو زیات تر خطر لاندې ارزول شویدي. په ورته حال کې د هغه ورو وچکالي په وړاندې غبرګون کوم چې په ۲۰۱۱ کال کې پیل شوي و اوس هم روان دی او د سپټمبر تر میاشتې یا د غنمو د لو تر موسم پورې دوام وکړي.

۴۷. د غَلُو دانو د پخيدو څخه وړاندې تحليلونه ښيي چې د افغانستان په اکثريت سيمو کې اوسنې حاصلات به عادي وي. په زیاترو اغيزمن شويو سېمو کې کلېوالې ټولنې به د خواړه د کمښت مخامخ شي څکه چې د وچکالې، سوړ ژمی او پسرلنۍ سیلابونو له امله د دوي داراییګانې کمې شویدې. د اپریل په میاشت کې نړیوال خوراکي پروګرام په افغانستان کې خپل د - خواړه د دارايي په خاطر - لومړني ستراتيژي بشپړ کړ چې په دغه پروګرام کې د ناورین د ګواښ په کمولو باندې تمرکز شوي و. کلیدي اهداف دا وو چې نه یوازې بېړني اړتیاوو ته رسیدنه وشي بلکې بېړنیو حالاتو ته

غبرګون وښوول شي، د ژوندانه بدیل بیا احیا شي، مولد دارایي ګانې بهتر شي او د ټولنو انعطاف هم پذیرې پیاوړې شي.

۴۸. اغلې ولیري اموس په بشري مرستو کې د عمومي منشی مرستیاله او د بېړنیو مرستو کور دیناتوره د مې د میاشتې ۸ څخه تر ۱۱ نېټې پورې د افغانستان څخه لیدنه ترسره کړې چې هغې د کابل او بلخ په ولایت کې د یو شمېر افغان چارواکو او هغو کسانو چې د طبیعي ناورینونو او جګړې له امله بې ځایه شوي دي، سره کتلي. هغې د بشري مرستو د ستر اړتیا له امله شوکه شوې او په جګړه کې بشري مرستو ته لاسرسي او د هغه بېړی وېش ته د یو مسولیت په ډول اشاره کړې چې دواړه اوس مهال او همدارنګه په راتلونکې کې د زیات بې باوری سره مخ دی. د ۲۰۱۲ کال لپاره د واحد غوښتنې په پروسه کې چې ۴۳۷ میلیون امریکایي ډالر غوښتل شوي و، د کال تر نیمایي پورې یوازی د هغه ۲۵ سلنه مرسته تر لاسه شوې چې د ۲۰۱۱ کال د مې د میاشتې په پرتله ډېر لږ دي ځکه هغه مهال د غوښتل شوي ټولټال ۶۷۹ میلیون امریکایي ډالر کابو ۵۲ سلنه مرسته تر لاسه شوې و. تر دې مهاله د بېړنیو مرستو د غبرګون په اړوند هیڅ ډول مالي مرسته ندې تر لاسه شوې.

۴۹. د مې د میاشتې په ۲ او ۳ نېټه په ژینو کې د افغان د بېځایه شویو د وضعیت په اړوند (د افغانستان د مهاجرو د خپلې خوښې بېرته تګ، دوامدار ادغام او د کوربه هیوادو سره د ملاتړ په خاطر د حل د ستراتیژۍ نړیوال کنفرانس) یو کنفرانس دایر شو چې د سویزلند د حکومت او د مهاجرو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیسارۍ دفتر له خوا په ګډه ریاست کیده او د ۴۷ هیوادونو ډلې پکې ګډون کړې وو. په دغه کنفرانس کې د همکاری او همغږی څو اړخیز واحد کاری چوکاټ په رسمي ډول لارې ته واچول شو چې د افغانستان، پاکستان او ایران حکومتونه او د مهاجرو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیسارۍ دفتر پر هغه باندې توافق وکړل. دغه ستراتیژۍ چې د فبرورۍ په میاشت کې د ولسمشر تایید تر لاسه کړ او د مارچ په میاشت کې د ولسمشر لومړي مرستیال محمد قسیم فهیم او اړوند کلېدی وزیرانو له خوا ملاتړ څرګند شو د همغږه شوي تعامل په خاطر پر لاندې دریو ټکو باندې تمرکز لرې: (الف) د خپلې خوښې د بېرته راتګ ملاتړ، (ب) دوامداره ادغام او (ج) د کوربه هیوادونو سره مرسته، چې دا ټول باید د نړیوالو ژمنو او دوامداره او ملموس ملاتړ سره یو ځای وي. د کنفرانس له خوا ګډه اعلامیه د بشري مرستو او دوامداره پرمختګ تر منځ د تشې د ډکولو پر اهمیت ټینګار وکړ.

۵۰. جګړه د داخلې بېځایه کیدنې لامل شوې چې په دوامدار ډول زیاتیږي او د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۴ میاشتو کې ۸۷۰۰۰ تنه افغانان بېځایه شوي دي. دغه شمېره د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله ۱۷ سلنه او د ۲۰۱۰ کال د ورته مودې په پرتله ۶۰ سلنه زیاتوالې ښيي. د اپریل د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې په افغانستان د داخلې بېځایه شویو کسانو شمېر تر ۴۰۸۰۰۰ تنه زیات اټکل شوي دی. د مهاجرو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیسار دفتر او افغان چارواکو سره په ګډه د داخلې بېځایه شویو د پروفایل جوړول او د ډیټا د تصفیه کولو باندې کار کوي چې د راپور ورکولو دقت او د پروګرام غبرګون لا پسې ښه کړي.

۵۱.	د مارچ په ۲۹ نېټه په کابل کې د مهاجرینو وزیر او د مهاجرت نړیوال سازمان رئیس د پوهاوي یو یادښت لاسلیک کړل چې د هغه له مخې د همکاري یو کاري چوکات رامنځته کیږي تر څو په وزارت کې ظرفیت نور هم پیاوړي کړي. په دغه کاري چوکات کې د داخلې بېځایه شویو کسانو، زیانمنیدونکو ډلو او د مهاجرو حقونه، د مرستو او خدمتونو اماده کول پکې شامل دي.

۵۲.	د افغان کارکوونکي د برياڵې ظرفيت جوړولو وروسته د ماين پاکې د همغږي دفتر د اپریل په میاشت کې د ماین پاکې د همغږي د مرکز څخه د اخرنۍ نړیوال تخنیکي مشارو د وتلو وروسته، دغه پروګرام ټول افغانانو ته انتقال شو. د ملګرو ملتونو د ماین پاکې یو کوچنۍ دفتر پاتې دی چې د غوښتنې په صورت کې مرسته اماده کړي او همدارنګه د ډونرانو د مرستو څخه نظارت او ارزونه تر سره کړي. د مارچ په میاشت کې افغان حکومت د پرسونل ضد ماينونو د منعه، کاروني، زیرمه کولو، تولید، انتقال او تخریب د کنوانسیون هیوادونو څخه وغوښتل چې که چېرې دوي غواړي چې دغه هیواد د دغه کنوانسیون سره یوځای شي، خپل د ۲۰۱۳ کال مهال ویش د لسو نورو کلونو لپاره وغځوي تر څو افغانستان وکولاي شي خپل د ځمکو څخه ټول د پرسونل ضد ماینونه پاک کړي. د دغه غوښتنې سره یو کاري پلان هم ضمیمه دی چې په ۲۰۲۳ کال کې د ماینونو څخه پاک افغانستان تضمینوي. په دغه کار کې ځنډ د پیسو موضوع، ناامني، په تېر وخت کې د نامعلومو سیمو او په ماينونو ککړ سیمو د نقشې او اسنادو د نشتون شامل دي. اوس هم تر یو میلیون زیات افغانان د ماینونو څخه په ککړه ځمکه کې د ۵۰۰ مترو په واټن کې لېږي ژوند کوي، او د دايکندي ولايت پرته چې د ماینونو څخه پاکه ده، د افغانستان په ۳۳ ولايتونو کې کابو ۶۰۰۰ داسې سېمې شتون لري.

**اووم: د مخدره توکو سره مبارزه**

۵۳.	د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر د ۲۰۱۲ کال د ترياکو د ګواښ د تحلیل راپور د اپریل په میاشت کې خپور کړ چې پکې وړاندوینه شوي چې په کال ۲۰۱۲ په افغانستان کې د ترياکو کښت زيات شوي. دغه زياتوالې د هيواد په ختيز او لویدیځ سیمو او په لانديني ولايتونو کې اټکل شوي: غور، هرات، کاپیسا، بادغیس، فراه، کنړ، ننګرهار، اروزګان او بدخشان. تمه کیږي چې ۱۵ ولايتونه چې په مرکزی، شمال او شمالشرق سیمو کې موقعیت لري د کوکنارو څخه پاک ولايتونه پاتې شي. د غور ولايت په ۲۰۱۱ کال کې د کوکنارو څخه پاک ولايت و خو د هغه دوام به د له منځه وړلو پر هڅو پوري تړلي وي. د سهيل د سېمې کندهار او هلمند ولايتونه بيا هم د ټول هيواد د تر ټولو زيات کښت مسوليت په غاړ لري، خو اټکل شوي چې د کندهار په ولايت کې کمښت راشي چې په ۲۰۱۱ کال کې ۲۷۲۱۳ هکتار ځمکه کې کوکنار کرل شوي وو خو د هلمند په ولايت کې کوم خاص بدلون رانشي چې تېر کال ۶۳۳۰۷ هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي و چې د هیواد کابو نیم ترياک توليدوي.

۵۴.	د تولید شوي ترياک اخري شېمري د کوکنار د کښت د له منځه وړلو هڅو پوري تړلي دی چې په دغه اړوند د والیانو هڅې د مارچ په میاشت کې په اکثرو ولایتونو کې پیل شوي دي. لومړني ډېټا د دې ښکارندوي دی چې تر ۱۰۰۰۰ هکتاره زیات ځمکه د کوکنارو څخه پاکه شوي چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۱۶۵ سلنه زیاتوالي ښيي. اخري ارزونې د سټلایت د عکسونو او هوايي ډېټا له رویه به ترسره شي.

۵۵.	د مې د میاشتې د ۲۸ بیا تر ۳۰ نېټې پوري د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم د دفتر مشر یوري فیدوتوف د افغانستان څخه لیدنه کړي او د افغانستان د مخدره توکو سره د مبارزې وزیر سره په ګډه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر د ۲۰۱۲ – ۲۰۱۴ کلونو هیوادني پروګرام لاري ته واچول. د ۱۱۷ میلیونه امریکايي ډالر د اټکل شوي بودجې سره د دغه پروګرام هدف دا دي چې د جزايي عدالت د سیسټمونو او د حکومت د مخدره توکو سره د مبارزې هڅو د پیاوړي کولو له لاري ټیکاو او پرمختګ سره مرسته وکړي. څلور فرعي پروګرامونه پر تحقیق، پالیسي او ملاتړ، د قانون تنفیذ، روغتیا او د ژوندانه بدیل باندي تمرکز لري. د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر اوس مهال پر دي تمرکز لري چې د ملي لومړیتوب په پروګرامونو کې د مخدره توکو سره د مبارزې په اړوند د ارزوني میکانیزمونه و څاري تر څو ډاډمن شي چې دغه کار ته د حکومت په ټولو سکټورونو کې سمت ورکړ شي نه یوازی د امنیتي او زراعت په ډګرونو کې بلکې د روغتیا او روزني ډګرونه هم پکې شامل وي. کاري لایحه باندي توافق شوي او د نظارت او همغږي د ګډ بورډ د راتلوونکې غونډې په اجنډا کې شامل شوي دی.

**اتم: د ماموریت ملاتړ**

۵۶.	د امنېتي مسولیت د لېږد د غوښتنو په پام کې نیولو سره، یوناما اوس مهال خپل فعالیتونو او موقف باندي بیا کتنه کوي چې سرچېني په اغیزمن ډول وکاروي او په پراخه توګه خپل فعالیتونه د ماموریت پر کلیدي ډګرونو باندي مرکوز کړي، پداسي حال کې چې هڅه کوي د ماموریت دندو ته د یو ستر جغرافیايي پوښښ لاندي ادامه ورکړي، مرکزی دفتر د دوي څخه غوښتي دي د عمومي اسامبلي له خوا د ۲۰۱۲ – ۲۰۱۳ کلونو لپاره د تایید شوي بودجې په پام کې نیولو سره، په ۲۰۱۳ کال کې د دوي په بودجه کې ستر کمښت راشي. همدارنګه دغه پروسه غواړي چې د ملګرو ملتونو، افغان حکومت او غړي هیوادونو تر منځ د بحثونو وروسته، په ۲۰۱۱ کال کې پر ماموریت باندي یو هر اړخیز بیا کتنه تر سره شو او هغه زما د ۲۰۱۲ کال د مارچ د میاشتې په راپور کې (A/66/728-S/2012/133) شامل شوي، د دغه کتنې د توصیو پلې کولو ته ادامه ورکړي.

۵۷.	د ۲۰۱۳ کال د جنوري د میاشتې څخه د یوناما ۸ ولایتي دفترونه به وتړل شي او د هغوي زیاتره دندي د حوزوي دفترونو له خوا تر سره شي. دغه پریکړه د ملګرو ملتونو، وجهو او پرګرامونو سره د مشوري وروسته او په

افغانستان کې د ملګرو ملتونو د راتلونکي حضور په رڼا کې نيول شوي. د دې په پايله کې د جون تر ۳۰ نېټې پورې د يوناما د زابل او غور اوسنې ولايتي دفترونه به په ترتيب سره، د افغانستان حکومت او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر ته انتقال شي. د بادغيس او د نيمروز ولايتونو دفترونه به وتړل شي. د څلور نور دفترونو د نهايي وضعيت په اړوند د همکارانو سره بحثونه دوام لري او د دايکندي، اروزګان، تخار او سرپل دفترونه د کال تر پايه پورې به وتړل شي. د دفترونو تړل به د کافي زيرمې لامل شي، خو لا نور زيرمه کولو ته اړتيا شته تر څو وړانديز شوي مالي کښمت پوره کړي.

۵۸. يوناما هڅه کوي چې خپل مخکينې پلان شوي پروژې او ساختمانونه بشپړ کړي تر څو د کارکوونکو امنيت او خونديتوب د ملګرو ملتونو د عملياتي معيارونو سره سم ډاډمن شي. تمه کيږي چې د بلخ او باميان د يوناما حوزوي دفترونو کارونه تر منې پورې بشپړ شي او د جوزجان د ولايت د دفتر بيارغول بشپړ شوي او اپريل په لومړي نېټه بيا پرانيستل شوي. لومړنې ګامونه اخېستل شوي تر څو د يوناما د کندز دفتر نړيوال کارکوونکې بېرته واستل شي چې د فبروري په مياشت کې پر دغه دفتر باندي د بريد له امله نقل مکان شوي وو او دفتر به وروسته يو بل خوندي ځای ته انتقال شي.

۵۹. د کارکوونکو په شمېر کې به هم تنقيص راشي چې زما ځانګړي استازي به هغه په ستراتيژيک ډول پلي کړي چې د کارکوونکو د موقف او پروفايل د اړتياو سره سم ترسره شي. په سختو کار ځاينونو کې د پرسونل په کارګمارل او ساتل ډير ستونزمن دي په ځانګړي ډول د لوړې درجې کارکوونکي.

**نهم: مشاهدات**

۶۰. د امنېتي ليږد، بشري پراختيا، مدنې ټولنې او افغان نهادونو کاري چوکاټونو کې د پرمختګونو په پام کې نيولو سره، د يو محتاطانه خوشبېنې لپاره ځرک شته. خو ستري ننګوني هم بايد له پامه و نه غورځل شي، د نظامې ځواکونو وتل او په پرمختيايي مرستو کې د غير توقع کمښت، د دا ډول د لاسته راوړنو د دوام په اړوند بې باوري زياتوي. پر اقتصاد باندي ستره ناوړه اغيزه، د دندو له لاسه ورکول او د بشري مرستو ممکنه زياته اړتيا، لږ تر لږه په لنډ مهاله او منځ مهاله موده کې په داسې يو هيواد کې چې د انساني پراختيا ځېنې شاخصونه په نړۍ کې تر ټولو ټېټې دې، د وړاند وينې وړ دی. د بلواګرې، معافيت، اداري فساد، جنايي جرمونه او د مخدره توکو د زيات توليد او قاچاق پديدې، د ټيکاو لپاره څو اړخيزی ننګوني شېمرل کيږي. کيداي شي امنيتي ليږد د لومړيتوبو د هڅو لپاره يو فرصت وي خو دا هم ممکنه ده چې ناوړه اغيزې هم ولري. ممکنه ده د بې ثباتي لپاره ليوالتيا پياوړې کړي چې په تېر وخت کې هيواد ته ډېر زيان رسولې، په ځانګړي ډول که چېرې د قومې تفرقې او تضاد سره يو ځای وي. نو ځکه دا

يو لومړيتوب دی چې د نړيوال اوږد مهاله تعامل او ملاتړ سره يو ځای د متقابل ژمنې او اعتماد رامنځته کول او وړاندوينې سره ملې سياسي وفاق رامنځته شي.

۶۱. په ۲۰۱۲ کال کې د ناټو هيوادونو د مشرانو سر مشريزه په شيکاګو جوړ شو چې د نړيوالو پوځې ځواکونو د وتلو زمانې چوکاټ او افغان نهادونو ته د خلکو د امنيت د تامين لپاره د مشری اوسنې ونډې ملاتړ تاييد کړ. د سرمشريزې په غونډه کې دا هم تاييد شو چې د ناټو – ايساف ماموريت به خپل بڼې ته تغير ورکړي او د يو جګړييز ماموريت څخه د روزنې او مرستې ماموريت ته بدلون وکړي. يو زيات شمېر د ستراتيژيک همکاري تړونونه دغه ستراتيژي او دوه اړخيزه ژمنې پياوړي کوي. د ملکې کسانو خونديتوب او امنيتي خدمتونه بايد د نړيوال او همدارنګه د افغانستان په کچه مسوليتونو لپاره د پلان جوړولو لپاره مرکزې اهميت ولري ځکه چې د حکومت د مشروعيت د پياوړې کولو په خاطر ارزښتمن دی. د دي برسيره د دوامداره حکومتوالی او پرمختيايي مرستو کاري چوکاټ ته زښته اړتيا شته. لدي پرته چې په کابل کې د جون په مياشت کې د وزيرانو په کچه غونډه تر سره شوه او د سېمه ييز همکاري د هڅو د تسلسُل لپاره پياوړتيا، زه دي ته سترګې په لار يم چې د جولای په مياشت په توکيو کې نړيوال کنفرانس د ۲۰۱۴ کال وروسته پر اقتصادی ټولنېز ژمنو باندي بحث وکړي.

۶۲. د راپور ورکولو په موده کې، د فبرورې د لومړې نېټې بيا د اپريل تر ۳۰ نېټې پوري، د امنېتي پېښو او ملکې تلفاتو په شمېر کې کمښت د خوشحالي خبره ده. خو په عين حال کې د جون د مياشتې په ۶ نېټه، ۴۴ تنه ملکې افراد، چې په کې ۱۰ تنه ماشومان هم شامل وو، وژل شوي او ۶۹ تنه نور ملکيان ژوبل شول. ځانمرګې بريدونه، ځای پر ځای شوي چاوديدونکې توکې او د کندهار، فارياب، پکتيکا او لوګر په ولايتونو کې هوايي بريدونه، په ۲۰۱۲ کال تر دې دمه دا په يوه روځ کې د ملکې کسانو د تلفاتو د تر ټولو زيات شمېر له امله يوه خونړۍ ورځ وه.

۶۳. زه د حکومت ضد عناصرو څخه يو ځل بيا غوښتنه کوم چې، په ځانګړي ډول، د غير بشري او د تبعيض نه کولو د قربانې په واسطه فعال کيدونکې ځای پر ځای شوي چاوديدونکې توکې د کارولو څخه ډډه وکړي. زه همدارنګه د هدفي وژنو د کچې د زياتيدو له امله او د زده کړي پرسونل او ښونځيو په وړاندي د تاوتريخوالې روان کمپاين په خاطر مايوس يم. دا ډول عملونو د ملکې کسانو او په ځانګړي ډول ماشومانو او د زده کړي نهادونو په وړاندي د خونديتوب پر مسوليت باندي سترګې پټول دي، چې د نړيوال بشري قانون او د بشري حقونو د قانون څخه د تېري لامل ګرځي.

۶۴. همدارنګه يوناما هم خپله اندېښنه يې د هوايي عملياتو په اړوند څرګند کړي چې د رواني وسله والې شخړی د پيل څخه او د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د بل هر تاکتيک د کارولو په پرتله د زياتو ملکې وګړو د وژنې او ژوبل کيدو لامل شوي دی. ما د ناټو په سرمشريزه غونډه کې چې د مې په مياشت کې جوړ شوي وه، دا ولېد چې د ملکې کسانو د خونديتوب د لا زياتو هڅو غوښتنه کوي، او په ستايلو سره دا يادونه هم کوم چې حکومت او ايساف پدي

موخه خپل پر طرزالعملونو باندي بيا کتنې ته دوام ورکوي چې د ملکي کسانو د تلفاتو مخنيوي، د هوايي عملياتو په ګډون، نوره هم اغېزمنه کړي.

۶۵. د نړيوالې ټولنې په مرسته افغان حکومت بايد خپلو هڅو ته دوام ورکړي تر څو مشروعيت لا پياوړي، د اداري توقيف او د قطعې د حبس لپاره د توقيف او حقوقي رژيم د مسايلو په اړوند د يو پياوړي حقوقي چوکات د رامنځته کولو په ملاتړ، يوځای د يو روښانه حقوقي چوکاټ سره چې د افغان ځواکونو په واسطه د ځانګړو عملياتو پلې کول، تحقيق او توقيف تنظيم کړي په ګډون، پر دوامدارې امنيتي لاسته راوړنو باندي ټينګار وکړي. د ځايي امنيت نوښتونه محتاطانه نظارت او تذکيي ته اړتيا لري او زه هغې هڅې ستايم کوم چې د پوليس دغو ځواکونو ته د دوي د قانونې دندو په اړوند معلومات ورکول کيږي.

۶۶. د سولې د پروسي خوځښت د تل په شان ورو او نابرابر روان دی. که څه هم د ټولو خواوو ترمنځ د باور د رامنځته کولو تعامل ښه پرمختګ نلري خو د دې سرېيره دغه پروسه بايد تعقيب شي. زه د ښاغلي صلاح الدين رباني د سولې د عالې شورا د رئيس په توګه د ده ټاکنه ستايم، او په مرکزي او ځايي کچه د پراخ بنسټه او عام شموله د سولې د پروسې باندي د هغه د ټينګار ملاتړ کوم. دسولې او مصالحې په هڅو کې د ښځو غړ، ونډه او ځای بايد پياوړي وي او همدرانګه د دغو هڅو د پايلو په جوړښت کې دوي خپل حقيقي تاثير ولري. د اړتيا په صورت کې، يوناما تيار دی چې د عام شموله بين الافغانې سياسي ډيالوګ لپاره د رغنده آسانتياو ملاتړ چمتو کړي.

۶۷. زه په سيمه ييزه کچه د پراخ دوه اړخيز او څو اړخيز نوښتونو د مثبت خوځښت له امله خوشحاله يم چې د باور رامنځته کولو، ثبات او اقتصادی غوړيدنې لپاره ګټه ورې دې. زه د استانبول د پروسی د پرمختګ او همدارنګه د هغو هڅو له امله چې بايد لومړنې معقول اقدامات رامنځته کړي چې وکولاي باور رامنځته او د خلکو پر ژوند او پرمختګ باندي محسوسه اغيزه ولري، د خوشحالی احساس کوم. زه مشاهده کوم چې د افغان حکومت مشرتابه په کابل کې د وزيرانو په کچه د ناستې لپاره په لوړه کچه تياري نيسي. ملګري ملتونه او زما ځانګړې استازی خپل ګډون ته ادامه ورکړي او چېرته چې لازمه وي مرسته اماده کړي. د افغانستان په اړوند د اقتصادی همکاري پينځم سيمه ييز کنفرانس کې د ۱۷ پروژو لومړيتوب جوړول يو رغنده پرمختګ دی چې د توکيو په راتلونکي کنفرانس کې بايد اړينه پاملرنه تر لاسه کړي.

۶۸. د راتلونکي ټولټاکنو پر ونډې باندې لا وختي ډيره پاملرنه کيږي تر څو د يو سوله ييز سياسي انتقال لار هوار شي. دواړه افغان چارواکي او هم افغان ولس د ټولټاکنو د پروسي په پلي کولو کې او د ټولټاکنو د کاري چوکاټ په تعيينولو کې د مشري رول لري، چې د ټول سياسي چاپېريال تفاهم او منلو ته به اړتيا ولري. زه د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون د مشورو د لړې ستاينه کوم او هيله لرم چې د نوي قانون د تاييد په کار کې همغږي رامنځته کړي. ملګري ملتونه د ځايي تخنيکي ظرفيت او پايښت لرونکي سيستمونو د رامنځته کولو کې به فعال ملګري وي، چې د نړيوال مرستو همغږی وکړي او د خپل نړيوال پراخه تجربي پر بنسټ مشورې وړاندي کړي. د افغانستان د راتلونکي د

مهمو مسالو په اړوند پیاوړي بحث تمه کیږی او د هغه هرکلی وشي تر څو د راي ورکوونکو سره په سیاسي اګاهانه ټاکنه کې مرسته وکړي.

۶۹. د لېږد پروسه د مهمو بیا ترتیباتو لپاره ښه فرصت په لاس ورکوي او په پراخه پیمانه ملکې موسسې لومړي لیکی ته راوړي. خو دا باید د یو دقیق پلان جوړونې او تیاری سره تر سره شي. د ساري په ډول د ولایتې بیا رغوونې ټیمونه د ولایتونو په کچه ستر مالې او لوژستیکې مرستي اماده کول. د دوي پرمختګ باید په دې معنی نوي چې ځایي ادارو لپاره وجهې او مرستي ټوله له منځه ولاړ شي، بلکې دغه مرستي باید د افغان د حکومتداری د سیسټمونو د ټیکاو لپاره دوام وموې. کیداي شي د نړیوال پوځې ځواکونو د زیات شمېر د تخلیې وروسته د رامنځته شوي مالې اغیزې له امله، په ځانګړي ډول د مخدره توکو په ډګر کې، نامشروع اقتصاد ته مخه کول، د هغو کسانو له خوا کوم چې د حمایت ستر سیسټمونه لري، نور هم جذاب شي. د ملت د سیاسي بدنې د دا ډول یو مخرب موضوع سره د مبارزې په خاطر، نه یوازې د ځایي چارواکو له خوا بلکې د نړیوالې ټولنې له خوا هم، سیاسي ارادي ته اړتیا لري.

۷۰. موثره متقابل حسابورکوونه د اوږد مهالې ملاتړ لپاره اړینه ده. ډونران باید د غیرواقعې غوښتنو څخه ډډه وکړي او د موجودو نهادونو د ظرفیت خنډونه تشخیص کړي. خو په ورته حال کې، د ډونراو د ژمن پاته کیدو لپاره، باید صادقانه هڅې وشي تر څو د جنایي او پراخ اداري فساد په وړاندي مبارزه وشي چې د حکومت نهادونه او کارې چوکاټونه د بدلون د ګواښ سره مخامخ کوي. د نظارت او ارزونې کمیسیون په خپل حساس پړاو کې دی چې د ملې او بین المللی ملاتړ او پاملرنې ته اړتیا لري.

۷۱. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو راتلونکې ونډه د غیر رسمي بحثونو د راپارولو لامل شوي. په داسې حال کې چې ملګري ملتونه به د افغانستان سره خپل د توان د اعظمی حد پورې مرسته وکړي خو ټول اړتیاوي پوره کول به هم سخت کار وي. د دغه سازمان د تخصص او تجربو په عرصو کې د ځانګړي ونډې له امله باید ستاینه وشي. د افغانستان لپاره او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ونډې په اړوند د نړیوال مرستي د کاری چوکاټ لپاره یو پراخه توافق ته اړتیا شته چې بودجوی خنډونه بیلانس او هوار کړي.

۷۲. راتلونکې کنفرانس چې په توکیو کې دایریږي باید یو واضح پیغام خپور کړي چې افغانستان د خپل پرمختګ او ټولنیز اړتیاو سره یوازې نه پریښودل کیږي. د افغانستان په اړوند او د دغه هیواد د په ځان اتکا ستراتیژی او د ملې لومړیتوبونو پروګرامونه لپاره د اوږد مهالې ملاتړ په خاطر محسوس ژمنو ته اړتیا شته، څکه دغه هیواد د ۲۰۱۴ کال وروسته د اقتصادی او مالی ثبات لپاره هڅه کوي. تیاریګانې خپل پاملرنه پر اغیزمن، حسابورکوونکې او د ټیکاو وړ حکومتداري باندي مرکوز کړي. ملګري ملتونه د کنفرانس په وخت کې د مدنې ټولنو یو عمده غونډه د دایرولو لپاره تسهیلات برابروي، او زه د افغان بیلابیل نارینه او ښځو د غړونو د اوریدو پر اهمیت باندي ټینګار کوم چې په هغه

کې د ښځو د ستونزو په اړوند مسایل او په کنفرانس کې ملي جنسیتی برابر پکې شامل دې. د فعال مدني ټولني موجودیت د تېرې لسېزې د سترو پرمختګونه د نښو یوه نښه ده. دا خورا د اهمیت وړ دی چې اګاه واوسو چې په تېر وخت کې د افغانستان لپاره د یو ثابت ملاتړ نشتون ستر قیمت پرې کړي دی. په مرستو کې بېړنی کمښت لاسته راوړنې د ګواښ سره مخامخ کوي او د بشري مرستو د لا زیات اړتیا په معنا ده. وړاند وینه او ستر ګډون د اغېزمن پلان جوړونې او پر راتلونکي باندې د باور لپاره ډېر مهم دې.

۷۳. زه غواړم د خپل ځانګړي استازی یان کوبیش او د هغه دوو مرستیالانو او همدارنګه په افغانستان کې د یوناما او د ملګرو ملتونو ټول پرسونل، دواړه داخلي او بهرني کارکوونکو څخه، د ننګونو په یو ډک چاپېریال کې د دوي ژمنتیا او وقف کولو په خاطر، مننه وکړم.